# خرنګه کولای شئ د سفر سند ترلاسه کړئ

ستاسو د سفر اسناد **شخصي** دي. تاسو کولای شئ د سفر سند ترلاسه کړئ، په دې شرط چې تاسو د **کډوال حیثیت "سیاسي قبولی" یا فرعي محافظت "اجتماعی قبولی" ګټه اخیستونکي اوسئ.**

که تاسو د کډوال حیثیت "سیاسي قبولی" څخه ګټه اخیستونکی یاست، ستاسو د سفر اسناد او ستاسو د کورنۍ سفر اسناد له اجرا وروسته پنځه (5) کاله اعتبار لري. دا د دې مودې لپاره د اعتبار وړ دي په دې شرط چې تاسو یو بالغ شخص یاست، یا یو زیرسن شخص چې عمر یی څوارلس (14) کاله بشپړ کړی وي. ستاسو سند به د درې (3) کلونو لپاره د اعتبار وړ وي که چیرې تاسو نبالغ یاست چې له څوارلسو (14) کلونو څخه کم عمر مو بشپړ کړی وي.

## خرنګه کولای شئ د سفر اسنادو غوښتنه وکړئ :

د **پولیسو د پاسپورټ دفتر (یا د بهرنیانو څانګه "بیورو")** کې غوښتنه وکړئ. ستاسو د اوسیدو ځای پورې اړوند د پاسپورټ مناسب دفتر غوره کړئ. د پاسپورټ دفتر کې، تاسو به د غوښتنلیک یو فورمه وسپارئ، چې تاسو ته د پاسپورټ دفتر لخوا درکړل شوي، د اړین اسنادو او اداري فیس سره لاندې تشریح شوي. تاسو باید د ګوتو نښې "Fingerprints" هم ورکړئ.

کله چې تاسو غوښتنه کوئ، تاسو باید د اوسیدو جواز (ADET) له ځان سره ولرئ ترڅو دا غوښتنې په وخت ښکاره کړئ، که نه نو تاسو باید د نړیوال محافظت غوښتونکي کارت "سه برګه" وړاندې کړئ چې د "اوسیدو جواز پاتی" مهر ولري.

د خپلو ماشومانو لپاره د سفري اسنادو غوښتنه کولو لپاره، تاسو یو ډول اسنادو/ اداري فیسونو ته اړتیا لرئ لکه څنګه چې لاندې تشریح شوي. همدارنګه، که چیرې ستاسو ماشومان شپږ (6) کلن او یا ډیر وي، نو تاسو باید د پاسپورټ دفتر ته راولئ ترڅو د هغوی د ګوتو نښې "Fingerprints" واخیستل شي.

هرڅومره ژر تر ژر چې تاسو اړین اسناد وسپارئ، تاسو ته به د پاسپورټ دفتر کې د رسید سند ثبوت درکړل شی. تاسو باید دا له لاسه ورنه کړئ، څکه چې تاسو د خپل سفر سند ترلاسه کولو لپاره ورته اړتیا لرئ.

په هغه صورت کې چې تاسو د 30 مۍ، 2020 دمخه د سفر اسنادو لپاره غوښتنلیک کړی وی، سربېره د پورته ذکر شوي سندونو، تاسو باید د پناه غوښتنې دفتر پرېکړه هم وړاندې کړئ چې دا ثابتوي چې د سفر اسنادو خپرول منظور شوي. د دې لپاره چې وګورئ که ستاسو پرېکړه لاهم پاتې ده، تاسو باید د **سفر اسنادو لپاره پریکړې** برخې کې هر ډول اعلاناتو وګورئ. تاسو به وکولای شئ د خپلې قضیې نمبر پراساس، د پناه غوښتنې خدمت په اعلانونو برخه کې خپله پرېکړه دلته ومومئ، ستاسو د قضیې نمبر پراساس. په هغه صورت کې چې تاسو د 30 مۍ، 2020 وروسته غوښتنه کړې، کومه پریکړه نه ده شوې، نو تاسو اړتیا نلرئ پرېکړه وړاندې کړئ.

**د دي لیست څخه د پاسپورټ دفتر غوره کړئ، ستاسو د اوسیدو ځای پراساس.**

اړین اسناد چې تاسو یې باید د غوښتنلیک سره د پاسپورټ دفتر کې وسپارئ، که چیرې تاسو د **کډوال حیثیت "سیاسي قبولی" ګټه اخیستونکی** یاست، په لاندې ډول دي :

- د سفر اسنادو جاري کولو لپاره د غوښتنلیک / رسمي اعلان فورمه کومه چه د پاسپورټ دفتر لخوا چمتو شوي ده.
- د هغې پرېکړې کاپي چې د کډوال حیثیت "سیاسي قبولی" یې تصویب/ثابت کړي.
- د پرېکړې یوه کاپي چې د استوګنې جواز "اقامه" (ADET) خپرول تصویب کړي.
- د پاسپورټ دوه وروستي/تازه عکسونه.
- د اداري فیس رسید (څرنګه کولای شئ د اداري فیس په اړه لارښووني ترلاسه کړئ دلته یې ولولئ.

اړین اسناد چې تاسو یې باید د غوښتنلیک سره د پاسپورټ دفتر کې وسپارئ، که چیرې تاسو **د فرعي محافظت "اجتماعی قبولی" ګټه اخیستونکی** یاست، په لاندې ډول دي:

- د سفر اسنادو جاري کولو لپاره د غوښتنلیک / رسمي اعلان فورمه د پاسپورټ دفتر لخوا چمتو شوي ده.
- د پرېکړې یوه کاپي چې دا تاییدوي چې تاسو ته باید د فرعي محافظت "اجتماعی قبولی" حیثیت درکړل شي، د یادونې سره چې تاسو ته باید د یونان دولتي چارواکو لخوا TDV یعنې سفر سند درکړل شی. که چیرې دا ډول یادداشت ستاسو په پرېکړې سند کې نه وی ذکر

شــوې، دا ســتاســو مکلفیت دی چې داســې یو ســند وړاندې کړئ چې دا ثابته کړي چې ستاسـو د هیواد چارواکو لپاره په حقیقت کې امکان نلري چې تاسـو ته ملي پاسـپورټ درکړی (د مثال په توګه ستاسو د هیواد د سفارت لخوا صادر شوی اړوند سند په یونان کې).

- د پربکړې یوه کاپي چې د استوګنې جواز "اقامه" (ADET) خپرول تصویب کړي.
- د پاسپورټ دوه وروستي/تازه عکسونه.
- د اداري فیس رسید **(څرنګه کولای شئ د اداري فیس په اړه لارښوونې ترلاسه کړئ دلته یې ولولئ.)**

## نور ګټور معلومات، ستاسو د ماشومانو د غوښتنلیکونو په اړه

په هغه حالت کې چې تاسو او ستاسو میرمن د خپلو ماشومانو ساتنه شریکوي او دا امکان نلري چې تاسو دواړه د پاسپورټ دفتر کې د خپلو ماشومانو لپاره غوښتنلیک سپارلو لپاره حاضر شئ، دا کافي دی که یو د مور او پلار څخه شتون ولري او لیکلی رضایت شتون ولري. د بل یو د والدین څخه (په هر حال، پدې حالت کې د هغه/هغې لاسلیک باید د رسمي چارواکو لخوا تایید شي).

✓ په هغه حالت کې چې تاسو د خپلو ماشومانو ځانګړي سرپرست یاست او هیڅ رسمي سند شتون نلري چې دا ثابت کړي چې تاسو واقعیا ځانګړي سرپرست یاست (د بیلګې په توګه طلاق او د سرپرست یا مړینې سند مقرر کول) ،تاسو باید یوه اړونده حلفي سند وسپارئ دوهمه ماده، د ګډ وزیر د پرېکړې شـــپږم پاراګراف 10302/ دولتي جریده 2036 Β΄/ 30 مۍ، 2020. دا حلفي سند باید دا تصدیق کړي چې تاسو د خپل ماشوم یا (ماشومانو) ځانګړي سرپرستي لرئ څکه چې د یوې ځانګړې پیښې له امله چې ستاسو په اصلي هیواد کې پیښه شوې (د بیلګې په توګه د میرمنې/خاوند مړینه، طلاق)، د کوم لپاره چې کوم رسمي سند شتون نلري.

✓ په هغه حالت کې چې تاسو یوازې یا بې مله یاست، ستاسو غوښتنلیک به ستاسو د ټاکل شوي سرپرست/استازي لخوا وسپارل شي.

## خرنګه کولای شئ د سفر سند ترلاسه کړئ

ستاسو د سفر اسنادو ترلاسه کولو لپاره:

- ✓ تاسو ممکن د خپل سفر سند(اسناد) ترلاسه کړئ، **یوازې** د لاندې یو د سیمه ایز پناه غوښتنې دفترونو څخه - د پناه غوښتنې مرکزونو څخه:

1. د تسالونیکي سیمه ایز پناه غوښتنې دفتر
2. د نیکیا خیلواکه پناه غوښتنې څانګه

- ✓ یوه اعلامیه هر وخت کې څېرول کیږي چې د نوي سفر اسناد خپاره شوي.
- ✓ تاسو باید د سفر اسنادو په اړه وروستي/تازه اعلانونو ته ګورئ **چې کوم چمتو دي (چمتو شوي سفر اسناد)** د خپلې قضیې شمیره وکاروئ ترخو وګورئ چې آیا ستاسو سفر سند چمتو دی، او نیټه / وخت چیک کړئ کله چې تاسو باید دا ترلاسه کړئ.
- ✓ تاسو باید په دقیقه نیټه ، وخت او ځای کې حاضر شئ کوم چه په اعلان کې ذکر شوي دی.
- ✓ تاسو باید د سفر د اسنادو ترلاسه کولو لپاره په شخصي توګه راشي.
- ✓ همچنان، کله چې تاسو سیمه ایز پناه غوښتنې دفتر یا د پناه غوښتنې څانګې ته د خپل سفر اسناد ترلاسه کولو لپاره لاړشئ نو تاسو باید **ماسک واغوندئ**.

ΕΛΛΗΝΙΚΗ ΔΗΜΟΚΡΑΤΙΑ
Υπουργείο Μετανάστευσης & Ασύλου

**کله چې تاسو د خپل سفر سند ترلاسه کولو لپاره ځئ، نو تاسو باید ځان سره راوړئ:**

- سند چې دا ثابتوي چې تاسو ټول اړین اسناد د پاسپورټ دفتر ته سپارلي دي.
- ستاسو د اوسیدو جواز "اقامه" (ADET)، کوم چې باید اعتبار ولري.
- په هغه صورت کې چې تاسو د اوسیدو جواز "اقامه" نه لرئ، نو تاسو باید د خپل نړیوال محافظت غوښتونکي کارت "سه برګه" له ځان سره ولرئ ، کوم باندې چې باید د "اوسیدلو جواز پاتې" مهر موجود وي.